روزل شوی نسل
نیکمرغه افغانستان

هفته نامه
# معارف

جمهوری اسلامی افغانستان
د پوهنې وزارت
۱۳۸۱

د پوهنې وزارت خبري، ادبي او ټولنیزه خپرونه
اوونیزه
سال تاسیس ۱۳۸۱ شماره مسلسل ۲۱۶ ماه اسد سال ۱۳۹۶

## ولسمشر جلالتماب محمد اشرف غني د پوهنې له وزیر سره دپوهنیز نظام د پیاوړتیا په اړه خبرې وکړې

ولسمشرجلالتمآب محمد اشرف غني د هېواد د پوهنیز نظام د پیاوړتیا او پراختیا په موخه د پوهنې له وزیر ښاغلي ډاکټر اسدالله حنیف بلخي سره ولیدل او په اړوندو موضوعاتو یې هر اړخیزې خبرې اترې وکړې.

ښاغلي بلخي د پوهنې وزارت د پرمختیایي پروګرامونو او پوهنیز نصاب په اړه ولسمشر غني ته بشپړ راپور وړاندې کړ.

دغه راز ښاغلي بلخي د پوهنې وزارت د ستراتیژیکو پلانونو او ددې وزارت د پرمختیایي پروګرامونو پر وړاندې د شته ستونزو او ننګونو په اړه هم ولسمشر ته معلومات ورکړل.

وروسته ولسمشر محمد اشرف غني د هېواد د پوهنیز نظام د هر اړخیزې ارزونې ترڅنګ د معارف د پیاوړتیا او پراختیا په اړه د پوهنې وزارت رهبرۍ ته لازمې سپارښتنې وکړې.



په دغه غونډه کې د پوهنې وزارت د عمومي زده کړو مرستیال ښاغلی ډاکټر محمد ابراهیم شینواري هم برخه درلوده.

## د سواد زده کړې ملي کمیټه د ولسمشرد دویم مرستیال په مشرۍ جوړه شوه

د سواد زده کړې ملي کمیټه د ولسمشر دویم مرستیال ښاغلي استاد سرور دانش تر مشرۍ لاندې جوړه او د اجنډا په اړه بحث او خبرې وشوې.دولسمشر دویم مرستیال په هیواد کې د سوداګرو مرستې په تیره بیا په ټول ګټو برخو کې ډېرې اړینې اود پام وړ وبللې زیاته یې کړه ، چې په راتلونکي کې به دا موضوع د یوې ځانګړې غونډې په ترځ کې د سوداګرې خونو په مرسته څیړې . دغه راز د پوهنې وزیر ښاغلی ډاکتراسدالله حنیف بلخي د خصوصي سکتور هڅه او ونډه اخیستل د سواد زده کړې په برخه کې د پام وړ وبلله او هیله یې څرګنده کړه چې خصوصي سکتور او ملي سوداګر باید د سواد زده کړو له معینیت سره د کتابونو دچاپ او قرطاسیو په برابرولو کې وړیا مرسته وکړي. ښاغلي بلخي زیاته کړه: سږ



کال به هم دتیر کاَل به شان له څینو وزارتونو سره د سواد زده کړې د ودې او پر اختیا په هکله هوکړه لیکونه لاسلیک شي .

ښاغلي بلخي ټینګار وکړ چې ښه به دا وي چې هوکړه لیکونه د وخت او زمان له پلوه د پینځو کلونو لپاره لاسلیک او پلي شي تر څو د سواد زده کړې برنامې په سمه توګه سرته ورسېږي او موږ خپلو موخو ته ورسیږو. ښاغلي دانش هم د سوداګرو مرستې ګټورې و بللې ویې وویل له ملي سوداګرو سره به په دې هکله ځانګړې ناسته تر سره کړي . ورپسې د سواد زده کړې معین ښاغلي داکتر سردار رحیمي د تیر کاَل د غونډو د څارنې مکمل رپوت د غونډې ګډنوالو ته وړاندې کړ زیاته یې کړه سږ کاَل د کابل په ښار کې ۱۵۰ د سواد زده کړې کورسونه فعال دي چې د تیر کاَل په پرتله یې د پام وړپرمختګ کړی دی . ښاغلي رحیمي د سواد زده کړې د معینیت په چوکاټ کې بودجوې ستونزې په غونډه کې مطرح کړې چې د مالیې وزارت استازي وړاندیز وکړ چې دا مسله د یوې پروژې په ډول مطرح کړې ترڅو په قانوني توګه کړنې تر سره شي.وروسته د کلیو او پراختیا وزیرښاغلي نصیر احمد دراني ډاډ ورکړل چې دا پروګرامونه به دکلیو او پراختیا وزارت له ظرفیتونو څخه په استفادې سره پیل شي. د ولسمشر مرستیال د سیمه ییزو ارګانونو خپلواک ریاست ته لارښونه وکړه ترڅو د ولایتي اداراتو له لارې د سواد زده کړو دکمیټې د جوړېدو د څرنګوالي په اړه د ولایت په کچه کره ارزونه او رپوت ولري .په دې غونډه کې پریکړه وشوه چې د سواد زده کړې د معینیت له لارې هغه شمیر والیان او خصوصي سکتور چې د سواد زده کړې په برخه کې یې نه ستړې کیدونکې هڅې کړې وستایل شي .

## ننګرهار کې ۸۰ تنه مېرمنو سواد او حرفوي زده کړې تر لاسه کړې

د افغانستان په ختیځ ننګرهار ولایت کې ۸۰ تنه مېرمنې د سواد او حرفوي زده کړو ترلاسه کولو وروسته فارغې او د یو لړ مراسمو په ترځ کې بری لیکونه او کاري وسایل پرې ووېشل شول.

دغو مېرمنو ته د عرفان ستوري په نوم اداري له لوري سواد او حرفوي زده کړې ورکړل شوې او تر فراغت وروسته یې د ګنډلو ماشینونه او یو شمېر نور کاري وسایل هم ورکړل.

د ننګرهار د پوهنې سرپرست رییس سید عیسی سادات فارغو شویو مېرمنو ته مبارکي وویله او د سواد زده کړو ترڅنګ یې د حرفې زده کړه د دوی د کورنیو د اقتصادي وضعیت د ښه والي په برخه کې خورا مهم ګام وباله.

نوموړي د عرفان ستوري له اداري مننه وکړه او له ورته نورو بنسټونو یې وغوښتل، چې بې سواده کسانو په ځانګړې ډول مېرمنو ته د سواد او حرفوي زده کړو د اسانتیاو برابرولو برخه کې مرسته او همکاري وکړي.

د یادلو وړ ده، چې تر دې وړاندې هم ننګرهار کې د یادې اداري پر مټ ۱۲۰ تنه مېرمنو سواد او حرفوي زده کړې تر لاسه کړې دي.

## امتحان رقابتی بورس های تحصیلی اخذ گردید

به منظور توزیع عادلانه بورس های تحصیلی، با در نظر داشت لیاقت و شایستگی از ۱۸۰ تن فارغان انیستیوت های تعلیمات تخنیکی و مسلکی که به زبان ازبکی بلدیت داشتند، جهت بدست آوردن بورس تحصیلی پوهنتون ازبکستان، امتحان رقابتی اخذ گردید.

در محفلی که به همین مناسبت در تالار انستیتوت اداره و حسابداری نسوان برگزار گردیده بود پوهندوی رحیل محمد فرملی، معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت معارف در حالی که دکتر اسدالله محقق جهانی معین انکشاف نصاب تعلیمی وزارت معارف، نمایندگان ریاست جمهوری اسلامی افغانستان و وزارت تحصیلات عالی نیز حضور داشتند، ضمن ابراز سپاس و قدردانی از کمک جمهوری ازبکستان، گفت: امتحان این بورسیه‌ها با شفافیت تمام برگزار می‌شود و از میان اشتراک‌کننده گان این آزمون، ۱۰۰ تن آنان که بتوانند بلندترین نمرات را اخذ نمایند و نیز به زبان «ازبکی» تسلط کامل داشته باشند، جهت ارتقای ظرفیت... (ص۲)

## امتحان بست های خالی ریاست معارف ولایت کندز اخذ گردید

امتحان ۵۷ بست خالی ریاست معارف ولایت کندز که از سوی مدیریت منابع بشری آن ریاست به اعلان گذاشته شده بود اخذ گردید این امتحان که برای بست های پنج اخذ گردید از طریق پروسه شفاف راه اندازی گردید رییس معارف کندز که از جریان امتحان دیدن می کردبه تمام شاملین امتحان از شفافیت این پروسه اطمینان داد در جریان این امتحان نماینده وزارت معارف نماینده کمیسیون خدمات ملکی و اصلاحات اداری و نماینده مقام ولایت نیز حضور داشتند.

سرمقاله:

# آزموینه ښوونیز نظم او دسپلین پیاوړی کوي

څلور نیم میاشتنی آزموینې پای ته ورسیدې، اوس هغه وخت را رسیدلای چې په خپلو تیرو څلور نیمو میاشتو یوه کره کتنه وکړو دا موضوع یواځې نه په ښوونکو پورې اړه لري او نه هم په زده کوونکو پورې، دا یوه ګډه موضوع او مهمه خبره ده چې په دواړو پورې اړه لري، دواړه خواوې باید په خپلو نیمګړتیاوو فکر وکړي خپلې مثبتې او منفي کړنې و ارزوي، د مثبتو کړونو دوام او د منفي کړونو څخه ډډه وکړي. زده کوونکي باید هیر نه کړي چې په اوسنیو شرایطو کې یواځنی کار چې دوی یې سرته رسوي هغه د علم او پوهې تر لاسه کول دي؛ ځکه چې زموږ د جنګ ځپلي هیواد ترقي او پرمختګ یواځې د علم او پوهې په ترلاسه کولو کې نغښتی دی ځوانان باید تر بل هر وخت زیات په خپلو درسونو کې هڅه او کوښښ وکړي خپلو تیرو کړونو ته ځیر اوسي، لکه مخکې مو چې یادونه وکړه خپل مثبت او منفي اړخونه پیدا د مثبتو کړونو دوام او د منفي کړونو څخه ځان وساتي ښوونکو ته هم پکار ده چې له هغو فعالو او عصري میتودونو څخه کار واخلي چې د زده کړې په بهیر کې اغیزناک ثابت شوي دي لایق او کند ذهنه زده کوونکي په نښه او د دوی د زده کړې لپاره یوه ښه او موثره د حل لاره پیدا کړي د ښوونځي د اداري سره په تفاهم کې تل د زده کوونکو له کورنیو سره په اړیکه کې اوسي او د هغوی کورنۍ د زده کوونکو له مثبتو او منفي کړونو څخه په جریان کې وساتي دلته د یو بل ټکي یادونه هم اړینه بولم چې په یوښوونځي کې د نظم او دسپلین شتون د زده کړې په بهیر نیغ اثر لري یعنې دا چې که نظم او دسپلین په یوه ښوونځي کې شتون ولري پرته له شکه چې د زده کړې پایلې به ډیرې ښې او د قناعت وړ وي او برعکس د نه شتون په صورت کې به نه یواځې دا چې په ښوونځي کې به بې نظمي وي بلکې د ښې زده کړې مخه هم ډپ کولی شي نو دلته د ښوونځیو هوډمن ګامونه اوچت کړي او له ښوونکو سره د ښوونیز چاپیریال په رامنځته کولو کې مرسته وکړي او لازمې آسانتیاوې ورته برابرې کړي ترڅو د زده کړې بهیر چټک او د قناعت وړ شي دا اصل د معارف د ودې او کیفیت په لوړولو کې ډیر مهم او ارزښتناک ثابتدای شي چې ښوونکي، زده کوونکي او اداري مسوولین باید په دې اصل کلک ولاړوي اوسي که چیرې دې اصل ته پاملرنه کوو د دې چارې بریالي پای ته رسیدل یواځې تر ښوونکو او زده کوونکو پورې نه منحصر کیږي بلکې کورنیو او والدینو ته هم پکار ده چې د ښوونځي له اداري سره مرسته وکړي چې په ښوونځي کې ښوونیز نظم او دسپلین ټینګ شي او د زده کړې لپاره زمینه برابره شي کورنۍ باید خپلو ماشومانو ته یو منظم درسي او تفریحي مهاَل ویش جوړ کړي او د هغه سره سم دې خپل ماشومان وڅاري په زده کړه کې یو مهم او اساسي ټکی د خپلو اولادونو څارل دی هغه په دې معنی چې هر کله مو اولادونه له ښوونځي څخه کورته راځي په تیره پلرونه باید دا خبره هیره نه کړي چې له خپلو ماشومانو څخه دا پوښتنه وکړي چې نن یې په ښوونځي کې کوم مضمونونه لوستي او ښوونکي موکومه کورنۍ دنده تاسو ته سپارلې ده او تر وسه ورسره په کورنۍ دنده کې مرسته وکړي او د راتلونکي ورځې لپاره چې کوم مضامین لولي د هغو درسونو لپاره مخکې له مخکې تیاری ونیسي دا کړنه به له زده کوونکو سره مرسته وکړي چې کومه زده کړه چې په ټولګي کې د ښوونکي لخوا زده کوونکو ته ورکول کیږي ژر تر ژره زده کړي او پایلې به یې هم ډیرې اغیزناکې وي د پوهنې وزارت رهبري په دې لټه کې ده ترڅو د کمیت ترڅنګ د کیفیت برخه تر بل هر وخت اوچته کړي نو یادې موخې ته د رسیدو او د یو با کیفیته ښوونیز نظام د رامنځته کولو او سمسورولو لپاره په ښوونیز چاپیریاَل کې د نظم او دسپلین را منځته کول چې د پوهنیز نظام ټول ډګرونه په غیرِ کې رانغاړي ډیر اړین بریښي کوم چې د پوهنې وزارت او رهبري یې د لاسته

بقیه صفحه اول

## امتحان رقابتی...

و ادامه تحصیل به ازبکستان، اعزام خواهند شد.

آقای فرملی افزود: مستفید شوندگان این بورسیه‌ها به مدت دو سال در پوهنتون دولتی ترمز جمهوری ازبکستان، در بخش ادبیات زبان ازبکی آموزش می‌بینند و پس از ختم دوره تحصیل به آنان سند لیسانس داده می‌شود تا پس از برگشت به کشور به حیث استاد زبان ازبکی در مکاتب و انستیتوت‌های وزارت معارف جذب شوند؛ چون در حال حاضر معارف کشور با کمبود استاد زبان ازبکی مواجه می‌باشد.

در پایان آقای فرملی از همه کسانی‌که در فراهم‌سازی این بورسیه‌ها سهم داشتند و تلاش کرده‌بودند تشکری کرده و برای اشتراک کنندگان آرزوی موفقیت نمود و از آنان خواست تا از فرصت پیش‌آمده استفاده خوب نمایند.

این نخستین باری‌ست که شماری زیادی از فارغان انستیتوت‌های تعلیمات تخنیکی و مسلکی به گونه‌ی دسته جمعی به هدف فراگیری زبان ازبکی به بیرون از کشور اعزام می شوند.

قرار است سال های آینده نیز در صورت دست یابی به یک توافق دو جانبه جمهوری اسلامی افغانستان و جمهوری اسلامی ازبکستان، شمار دیگری از فارغان انستیتوت های تعلیمات تخنیکی و مسلکی به هدف ارتقای ظرفیت و ادامه تحصیل در رشته های مختلف به این کشور ازبکستان اعزام شوند.

## کابل کې د لوګر یو شمېر ښوونکو ته د ظرفیت د لوړولو ورکشاپ جوړ شو

د پوهنې وزارت د لوګر د یو شمېر ښوونځیو ۴۵ سر ښوونکو او ښوونکو ته د ظرفیت د لوړولو په موخه څلور ورځنی ورکشاپ جوړ کړ.

دغه ورکشاپ د آسیا بنسټ په مالي لګښت د کابل ښار په سپین زر هوټل کې جوړ شوی، چې څلور ورځې به دوام وکړي.

د دغه روزنیز پروګرام موخه د استادانو د ظرفیت لوړول دي، چې د تدریس د نویو لارو چارو په هکله لارښوونې ورکول کیږي او هم به استادان له یو بل سره خپلې تجربې شریکې کړي.

د پوهنې وزارت له دې مخکې هم د لوګر ډیرو ښوونکو ته په کابل کې ورته ورکشاپونه جوړ کړي، چې د ښوونکو د ظرفیتونو لوړولو په برخه کې ګټور تمام شوي دي.

## تدویر ورکشاپ آموزشی برای معلمان ولایت لغمان

اخیرا برای مجموعا ۲۰۶ تن معلمان ۲۰ باب مکتب که ازجمله به تعداد ۴۸ تن انها خانم ها می باشند، ورکشاپ آموزشی دایرگردید.

الحاج محمد حضرت مجددی رییس معارف، محترم الحاج محمد کریم رحیمی معاون تدریسی معارف آن ولایت و مسوولان موسسات ایشیا فوندیشن نیز حاضر



بودند.

قرار است ورکشاپ مذکور مدت یکماه دوام کند تا که شاملین آن در بخش های ریاضی، ساینس و کمپیوتر مطالب جدیدی را فرا خواهند گرفت. در ورکشاپ مذکور الحاج محمد شیرین نصرت رییس مالی واداری ولایت لغمان، محترم

همچنان محترم رییس مالی واداری ولایت ضمن خوش آمدید به مهمانان وشاملان ورکشاپ هرگونه همکاری رادرجهت بهبود وضعیت معارف درآن ولایت وعده سپردند

## شبرغان کې څلورو ښوونځیو ته نوې ودانۍ جوړېږي

د جوزجان ولایت په مرکز شبرغان ښار کې د څلور بابه ښوونځیو د جوړېدو چارې د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پیل شوې. یادو ښوونځیو ته د اروپا د بشري مرستو د ادارې لخوا نوې ودانۍ جوړېږي، چې څه باندې ۱۳ میلیونه افغانۍ لګښت پرې راځي.

د جوزجان د پوهنې رییس عبدالحی یشین د یادو ښوونځیو د بنسټ ډبرې ایښودو په تړاو جوړو شویو مراسمو کې وویل، چې دغه ښوونځي زده کوونکو ته د جګړو له امله د کورنیو بې ځایه شویو ماشومانو د لاسرسي په موخه جوړېږي.

نوموړي زیاته کړه، د یادو ښوونځیو نوې ودانۍ به په پاخه او اساسي ډول د اکتیډ خیریه موسسې له لوري جوړې شي، چې مالي لګښت یې د اروپا د بشري مرستو اداره ورکوي.

د یادو ودانیو له جوړېدو سره به د سیمې زرګونه زده کوونکو په ځانګړې ډول هغو ماشومانو ته د زده کړو د خوندي تدریسي چاپېریاَل اسانتیاوې برابرې شي، چې د جنګ جګړو له امله بې ځایه شوي دي.

## از استادان که جدیداً تقرر حاصل خواهند کرد امتحان اخذ گردید

درولایت ننگرهار از ۱۰۰۰ تن داوطلبان که از جمله ۱۵۰ تن آن در مکاتب ولایت ننگرهار به صفت استاد ایفای خدمت خواهند کرد امتحان اخذ گردید که از این جمله ۱۲۰ تن آن که ۸۰ تن آن را اناث تشکیل میدهد درمرکز ننگرهار شهر جلال آباد و ولسوالی های مربوطه آن در مکاتب مختلف تقرر حاصل خواهند کرد.

پروسه انجام این امتحان از طرف موسسه (ښوونه د افغانستان لپاره) را اندازی گردیده قابل یاد آوریست که موسسه نامبرده سال گذشته هم ازطریق یک پروسه کاملاً شفاف حدود ۸۰ تن را که ۵۰ تن آن را اناث تشکیل می داد بعد از اخذ امتحان در مکاتب مربوطات ولایت ننگرهار به وظایف شان آغاز کردند سیدعیسی سادات سرپرست ریاست معارف ولایت ننگرهار ضمن اظهار سپاس و قدر دانی از موسسه یاد شده از شفافیت امتحان به شاملین اطمینان داده اظهار امیدواری کردند که با تقرر این استادان مشکلات که از ناحیه نبود استادان دریـن ولایت محسوس شود تا حدی حل خواهد شد.

## د رحمت باران

راشه د رحمت بارانه ښار اخستی اور دی
ژوند لکه د کلي د چنار اخستی اور دی
راشئ زما اوښکې ورله یوسئ بلبلانو
سوځي درنه ښکلي لاله زار اخستی اور دی
نه یې د چا لاس لکه امېل د غاړې تاو شو
غاړه کې یې خپل د غاړې هار اخستی اور دی
وچې شوندې ګرځئ بدبختانو میخوارانو
اوښکې د انګور وسوې انار اخستی اور دی
لرې شه لمنه به دې وسوزي طبیبه
پرې یې پرده چې څه کیږي پرهار اخستی اور دی
ما وې ګلابي جامونه راکړه راته وې یې
وار وکړه تلوار مکړه ستا وار اخستی اور دی
سوې د "کاروان" سندرې چا په زمزمه کړې
ګوتې د مطرب وسوې شاتار اخستی اور دی

رالیږونکی: محمد عباس

## غزل

د یوې موسکا له خزانې ځنې مې غلا کوله
مخ یې رڼا کوله سترګو یې ځلا کوله
چې په پلو کې یې سپوږمۍ لرله ستوري لرل
هسې له نازه به یې شپه راته بلا کوله
د یوې نازکې ګناه زغم به مې چې مات ولیده
الا بلا به مې په غاړه د ملا کوله
د نظر لاس مې رپېده په کې مظلومې اوښکې
هغې ظالمې به ظالمه شان ښکلا کوله
سلیماني زرغون جمال یې سمندر وګڼې
یوه شبنم به د میړې خونه تالا کوله
کاروان په مینه کې د خپل زړه په خبره ولاړ
نه مې له چا سره مسلات نه مې سلا کوله

رالیږونکی: مختار احمد

## په ژوندکې تر ټولو بهترین شیان

بهترینه خوشحالي د مور رضا ده

بهترینه مینه دالله (ج) ده

بهترین وینا رېښتیا ویل دي

بهترین عبادت لمونځ دی

بهترین کو قبر دی

بهترین سلوك اخلاق دي

بهترین سکون ذکر دی

بهترین د فکر آخرت دی

بهترین شایست د دین دی

بهترین دوست کتاب دی

بهترینه میاشت روژه ده

رالیږونکی: عزیر

## سخنان ارزشمند در مورد مطالعه

دو مشکل بزرگ در جامعه ما وجود دارد نخست اینکه همه من هستیم و ما را به رسمیت نمی‌شناسیم،و دوم اینکه کتاب نمی‌خوانیم خواندن بی اندیشه بیهوده است؛ و اندیشه بدون خواندن خطرناک اگر میخواهی راحت باشی کمتر بدان واگر میخواهی خوشبخت باشی بیشتر بخوان با اینحال ، خوشبختی را بر راحتی های زودگذر ارج بدهاز کتابفروشی پرسیدند : وضع کسب و کارت چگونه است؟گفت : بسیار بد، چون آنهایی که پول دارند اهل مطالعه نیستند و آنهایی هم که سواد دارند پول ندارند

درباره ی گذشته مطالعه کنید اگر می خواهید درباره ی آینده بدانید

جامعه وقتی به سعادت دست می یابد که مطالعه کار روزانه مردم باشد

خودشناسی زمانی صورت می گیرد که خود تان را در ارتباط با دیگران بشناسید

اگر یکی از علاقه مندان به مطالعه هستید بزرگ ترین خوشبختی جهان را دارید

در دنیا لذتی برابر با لذت مطالعه وجود ندارد

تمام آنچه که فضل من به من داد آگاه شدن به جهل خودم بود

ارسالی: احمدشعیب ورسجی

## میانه رو باشید

با خانواده ات رفتاری بین تندی و نرمی پیش گیر و در معاشرت با مردم میانه باش نه عزلت گزین و نه بسیار در آمیز . با دوستان بین جدیت و مزاح را بر گزین ، با شاگردان میان وقار و خوشرویی را پیش گیر . با فرزندان میانه ی نامهربانی و مهربانی را بر گزین. با فرمانروایان صالح میانه ی ارتباط و عدم ارتباط را انتخاب کن و برای شکمت میانه ی گرسنگی و سیری را انتخاب کن و برای بدنت میانه ی خستگی و آسایش را انتخاب کن، با نفست میانه ی منع و عطا را بر گزین و با پروردگارت میانه ی ترس و امید را اختیار کن تا از خوشبختان باشی.

ارسالی: ادیبه قدیری

## برف هفت سالگی

برف هفت سالگی ام را به خاطر صدای مادرم دوست داشتم که میگفت بلند شو ببین عجب برفی باریده برف ده سالگی را به خاطر تعطیل شدن مکتب و خوابیدن کنار مادرم حتی یک ساعت بیشتر برف چهارده سالگی را به خاطر تشویش امتحانات برف هجده سالگی را به خاطر استرس کنکور و آینده !! برف بیست سالگی را به خاطر عاشقی . هیجان عشقی که در ذهنم تا ابد ادامه داشت اما از برف بیست و پنج سالگی به بعد برف ها فقط سرد بود و سرد بود و سرد ......و خاطراتی که هرگز تکرار نخواهد شد.....

ارسالی: نجیم ستانکزی

## دو ... و یکی

خداوند برای هر انسانی دو چشم آفریده است اما بیشتر مردم فقط با یک چشم مینگرند و برای هر انسانی یک زبان و دو تا گوش آفریده است اما بیشتر مردم با زبان حرف میزنند و با یک گوش میشنوند و برای انسان دو دست خلق کرده است، دستی که برای نگه داشتن خودش به کار گیرد و دست دیگر برای نگه داشتن دیگران به کار گیرد و اما بیشتر فقط یک دست را به کار میگیرند و برای هر انسانی دو پا خلق کرده است ، پایی که برای دنیا تلاش کند و پایی که برای آخرت تلاش کند و اما بیشتر مردم یک پا را استفاده میکنند . خداوند برای هر انسانی قلبی آفریده است که مشکلات کوتاه زندگیش را تحمل کند اما انسان ها برای خود شان مشکلاتی به وجود میآورند که قلب های بسیاری از تحمل کردن آن به سختی می افتند و برای هر انسانی عمر محدودتعیین شده است اما چنان اوقات عمر شان را از دست میدهند گویی که صد سال عمر و فرصت دارند و خداوند بر هر انسانی یک بار مرگ را مقدر کرده است و اما به سبب جهالت و بدبختی اش راضی است که هر روز بمیرد.

ارسالی: ادیبه قدیری

## معصومه عصمتي وردګ د پوهنې دوه دېرشمه وزیره

گل آغا احمدي وردګ

آغلې معصومه عصمتي وردګ د عبدالخالق خان لور د هېواد د نومیالي شخصیت او د سردار محمد داود خان د جمهوریت په کابینه کې د صنايعو، سرحداتو او د پوهنې د وزیر پوهاند عبدالقیوم وردګ مېرمن وه چې په ۱۳۰۹ هجري لمریز کال په کابل کې زېږېدلې او د ۱۳۸۶ کال د لیندۍ په ۲۲ مه نېټه په فرانسه کې وفات شوې ده. آغلې معصومه عصمتي وردګ له ۱۳۶۹ څخه تر ۱۳۷۱ کال پورې د افغانستان د پوهنې د وزیرې په توګه دنده اجرا کړې او د افغانستان د پیاوړو مېرمنو له ډلې څخه ګڼل کیږي چې هېواد ته یې د خپل رسمي او غیر رسمي ژوند په اوږدو کې ګڼ شمېر علمي، روزنیز، کلتوري او خېرنیز خدمتونه سر ته رسولي دي. نوموړې دویمه افغان ښځینه وزیره ده چې له آغلې اناهیتا راتب زاد څخه وروسته د پوهنې د وزارت پر مقام دنده اجرا کړې ده. مېرمن معصومه عصمتي وردګ پیاوړې لیکواله، شاعره او څېړونکې وه او د خپل ژوند په اوږدو کې یې افغانستان ته زیات شمېر علمي، تخصصي، کلتوري او خېرنیز خدمتونه سر ته رسولي دي. آغلې وردګ هغه مېرمن وه چې د افغانستان د ښځو د نهضت بنسټ یې



اېښی، د افغان نجونو د تعلیم په لاره کې یې زیار ویستلی او د خپل وخت ادبي مجلسونه به یې په خپلو شعرونو، نثرونو او ادبي مقالو ښکلي کول او د یو پرمختللي هېواد ګڼې هیلې یې په خپل زړه کې درلودې. آغلې معصومه عصمتي وردګ خپلې لومړنۍ، منځنۍ او ثانوي زده کړې د ملالۍ په لیسه کې سر ته رسولې، لیسانس یې د ښوونې او روزنې په برخه کې د کابل پوهنتون د ښوونې او روزنې له پوهنځي څخه لاسته راوړی او ماستري یې د ښوونې او روزنې په برخه کې د امریکا په متحده ایالاتو کې د شیکاګو د ملي کالج څخه اخیستې ده. آغلې معصومه عصمتي وردګ له ۱۳۷۱ کال څخه وروسته په کابل کې د کورنیو جګړو د پیل کېدو له امله له هېواد څخه وتلو ته مجبوره شوه او د خپل خاوند پوهاند عبدالقیوم وردګ او کورنۍ سره یو ځای د فرانسې مولوز ښار ته ولاړه او د خپل ژوند تر پایه هلته اوسېدله. آغلې معصومه عصمتي وردګ د ګڼو علمي آثارو خاونده او پنځوونکې ده

Weekly Marif Newspaper

۴

Established 2002, Issue No 216, Month July - August

Ministry of Education Cultural and Social Issue

# معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی پس از سفر رسمی به کشور برگشت

پوهندوی رحیل‌محمد فرملی، معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی وزارت




معارف و هیات همراه شان، پس از سفر رسمی پنج روزه که جهت اشتراک در ششمین کنفرانس وزرا و مسوولان ارشد حوزه ورزش و تربیت بدنی منعقده جمهوری تا تارستان فدراتیف روسیه عازم آن کشور گردیده بود به کابل برگشت.

این کنفرانس در شهر کازان پایتخت جمهوری تاتارستان فدراتیف روسیه برگزار شده‌بود، که در آن شرکت کنندگان روی موضوعات مختلف مانند؛ ایجاد طرح جامع برای دسترسی عموم شهروندان کشورها به ویژه زنان، معیوبان و معلولان به ورزش، چگونگی تنظیم مضمون ورزش در نصاب آموزشی مکاتب و مراکز آموزشی، نقش ورزش در بخش‌های تأمین صلح و امنیت و رشد و انکشاف پایدار و حفظ سلامتی جهانی بحث و تبادل نظر نمودند. در ششمین کنفرانس وزرا و مسوولان ارشد حوزه ورزش و تربیت بدنی، بر اساس پیشنهاد هیأت اعزامی افغانستان، اشتراک کنندگان توافق نمودند تا هر کشور مطابق قوانین نافذه و ارزش‌های دینی، مذهبی، فرهنگی، اجتماعی، عرف و عادات شهروندانش زمینه‌های سالم رشد و انکشاف ورزش و تربیت بدنی را فراهم نمایند و یا نصاب تعلیمی واحد برای رشد و توسعه ورزش و تربیت بدنی که جهان‌شمول بوده و در تطبیق آن کشورهای اسلامی و غیراسلامی به مشکلی بر نخورند، از سوی کشورهای شرکت‌کننده ایجاد گردد.

معین تعلیمات تخنیکی و مسلکی در این سفر افزون بر اشتراک در کنفرانس نامبرده و صحبت در مورد ورزش و تربیت بدنی در کشور به‌ویژه در نظام معارف، با شماری از شخصیت‌ها و مقامات بلند پایه کشور میزبان و وزرای کشورهای اشتراک‌کننده دیدار نمودند و پیرامون وضعیت معارف افغانستان و جلب حمایت‌های آنان بحث و گفتگو نمود. در دیدارهای جداگانه که آقای فرملی با وزرای ورزش و تربیت بدنی کشورهای مصر و جاپان داشت، آنان دربخش‌های رشد و انکشاف ورزش و تربیت بدنی در افغانستان و اهدای بورسیه‌های تحصیلی به جوانان افغان، وعده همکاری نمودند.

قابل یاداوریست که محترم همایون خیری رئیس اداره ورزش و تربیت بدنی و معاون فنی این اداره درین سفر با محترم معین تخنیکی و مسلکی همراه بود.

# دتخنیکي او مسلکي معینت او یونسکو سازمان تر منځ هوکړه لیک لاسلیک شو

د تخنیکي او مسلکي زده کړو معینت او یونسکو سازمان ترمنځ د همکارۍ هوکړه لیک د نوموړي معینت د کنفرانسونو په تالار کې لاسلیك شو د دغه هوکړه لیک پر بنسټ به تر راتلونکي یوکال پورې د یونسکو سازمان لاندې څانګو کی دتخنیکی او مسلکی معینت سره مرسته وکړي .

د MIS یا د اطلاعاتودسیستم له مدیریت سره د بلدتیا په موخه د یونسکو سازمان ژمن دی چې د هیواد په کچه به په ټولو ولایتونو کې د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو د انستیتونو ۳۰۰ کارمندانو ته سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي

د تخنیکي او مسلکي معینت لپاره د ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو پورې د احصایې ملي ګزارش جوړول او چاپول په نوموړي معینت کې د دریو تنو با تجربه کسانو ګمارل تر څو د اطلاعاتو د سیستم مدیریت په منظم ډول کنترول کړي د تخنیکي او مسلکي معینت د اطلاعاتو د سیستم پراختیا په تخنیکي او مسلکي معینت پورې اړوند د انستیتوتونو او لیسو د کیفیت ارزونه او همدارنګه دګزارشونو جوړول او د ارزونې پایلې.



ښاغلي فرملي د دا ډول هوکړه لیکونو لاسلیك کول د اطلاعاتو دسیستم په مدیریت کې د ولایتي کارکوونکو د وړتیا لوړول،د تخنیکي او مسلکي تعلیماتو د انستیتوتونو د ښوونځیو عمومي وضعیت څخه د واضح او روښانه ګزارشونو جوړول، د شته امکاناتو، د زده کوونکو او استادانو کره شمیره په ګوته کول ډیر موثر او ارزښتناك وبلل او د نوموړي سازمان د پرله پسي مرستو چې د نوموړي معینت سره یې کړې دي کور ودانی وکړ وروسته د یونسکو د فرهنګي او علمي سازمان ریيسې آغلې پاتریشیا مک فیلیپس په خپلو خبرو کې د نوموړي سازمان لاسته راوړنې په تیره د یونسکو سازمان د پروژو پلي کیدل وستایل او هوډ یې څرګند کړ چې په راتلونکي کې به هم خپلو مرستو ته دوام ورکوي.

# ننګرهار کې د یو ښوونځي پرانیستل او د بل ښوونځي د بنسټ ډبره کیښودل شوه

د ننګرهار ولایت د مرکز جلاَل آباد ښار د مولوي خالص فامیلیو د حضرت عباس لومړني ښوونځي د نوې ودانۍ د جوړېدو چارې پیل او د یاد ولایت د بهسودو ولسوالۍ د میرانوټاپو لومړني ښوونځي د نوې ودانۍ دجوړولوچارې پای ته ورسېدې.

د بهسودو ولسوالۍ اړوند د میرانوټاپو لومړني ښوونځي نوې ودانۍ، چې د یو لړ مراسمو په ترځ کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه یاده ودانۍ ۶ درسي ټولګي، دوه اداري خونې، ۱۲۷ متره د احاطې دېوال، ۴۰ پایې درې کسیزه مېزلرونکې څوکۍ، د څښاك د پاکو اوبو څاه، تشنابونه او نورې ټولې اړینې ښوونیزې اسانتیاوې لري.

یاده ودانۍ د یو کال په ترځ کې په پاخه او اساسي ډول د افغانستان لپاره د سویډن کمېټې د ۷ میلیونه افغانیو په مالي مرستې جوړه شوې، چې له پرانېستو سره یې د یاد ښوونځي نږدې ۴۰۰ زده کوونکو ته د زده کړو د خوندي تدریسي چاپېریال اسانتیاوې برابرې شوې دي.

د ننګرهار ولایت د پوهنې ریاست د معلوماتو پر اساس ددې ولایت د مرکز جلال آباد ښار اړوند د شپږمې ناحیې د مولوي خالص فامیلیو د حضرت عباس لومړني ښوونځي د نوې ودانۍ د جوړېدو چارې همهاله د یو لړ مراسمو په ترځ کې پیل شوې. دغه ودانۍ به ۳ درسي ټولګي، د څښاك اوبو څاه، تشنابونه او نورې اړینې اسانتیاوې ولري.

د یاد ښوونځي نوې ودانۍ د «ژوا» په نوم د یوې مرسته کوونکې اداري لخوا جوړېږي، چې څه باندې ۳۳ زره امریکایي ډالره لګښت پرې راځي.

د یادولو وړ ده، چې د حضرت عباس لومړني ښوونځي ته به په نږدې راتلونکې کې د یوې بلې ودانۍ د جوړېدو چارې هم پیل شي، چې ۱۲ درسي ټولګي او نورې ټولې ښوونیزې اسانتیاوې به ولري

# در ولایت هلمند ۳۲ باب مکتب دو باره بازگشای شد

در ولایت هلمند به میان جگری ریش سفیدان و سران قومی ۳۲ باب مکتب دو باره باز گشایی شد به گفته محترم قدرت الله یعقوبی رییس معارف ولایت هلمند این مکاتب که قبلا مسدود بود به اثر سعی و تلاش چندین ماهه سران قومی دوباره بروی شاگردان باز گشایی گردید آقای یعقوبی اظهار امید واری کرد که تا آغاز سال جدید تعلیمی مناطق گرم سیر کشور روند آموزش در تمام مکاتب مسدود شده ولایت هلمند دوباره به حالت عادی خویش برخواهد گشت

# لشکرګاه ښار کې د یوه ښوونځي د بنسټ ډبره کیښودل شوه

د هلمند ولایت لښکرګاه ښار کې د یوه ښوونځي د بنسټ ډبره کیښودل شوه. نوموړی ښوونځی چې د هندوستان هیواد د۲۳ میلیونه افغانیو په مالي لګښت جوړیږي ۸ د لوست ټولګیو په درلودلو سر بیره د ښوونځي د احاطي د دیوالونو او تشنابونو د جوړیدو امکانات هم په کې په پام کې نیول شوي دي د یو بل خبر له مخې دهلمند ولایت د واشیر ولسوالۍ کې هم د یوه ښوونځي د بنسټ ډبره کیښودل شوه د نوموړي ښوونځي مالي لګښت هم چې ۲۳ میلیونه افغانۍ کیږي د هندوستان هیواد په غاړه اخیستی دی . نوموړی ښوونځی به ۸ د لوست ټولګي ولري چې تر څنګ به یې د ښوونځي د احاطې ددیوالونو او تشنابونو د جوړیدو چارې هم په پام کې نیول شوي دي

مسوول مدير: محمد نسیم "عیاذ"

کتنپلاوي: محمد کبیر حقمل- معراج زماني- استاد ګل رحمان رحمان
عبدالصبور غفراني - سرمؤلف مرستیال عنایت الله عادل - محمد اکرم وفادار

خبریال: - محمد اشرف رسولي

کمپوز و ډیزاین: بریالي رحمانزی

شمیر: ۵۰۰۰

دیجیتل: (۰۷۲۹۸۱۹۰۳۳)

ایمیل: marif.newspaper.moe@gmail.com

پته: دکابل ښار، محمد جان خان واټ، د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو ریاست، د پوهنې اوونیزې مدیریت